

نورمحمد غفوري

## په هېواد کې دموکراسي او دموکراتان

---

د ليکلو نېټه :۱۳۹۴/۷/۱۵

نن په هيواد کې د سياسي فعالينو او د سياست د مينه والو ترمنځ د ډېرو نورو مسئلو په لړ کې دا موضوع هم مطرح ده چې آيا د اوسنی اساسي قانون په رڼا او عمل کې په موجودو شرايطو کې په هيواد کې دموکراسي شته، دموکراتان آزاد سياسی او ټولنيز فعاليت کولای شي او په اوسنی نظام کې د دموکراسی له پاره د مبارزې قانونی او عملي امکانات موجود دی؟

زما په نظر د هيواد داقتصادی، ټولنيزو او کلتوری وروسته پاته شرايطو او د جګړې د دوام له په نظر کې نيولو سره نشو کولای چې په افغانستان کې دموکراسي د پر مختللو اروپايی هيوادونو له دموکراسيو سره پرتله کړو او په غربی مقياسونو جوړه دموکراسي په وران او وروسته پاته افغانستان کې وغواړو؛ خو په هيواد کې د دموکراسی د بنسټ د ډېرې اينبودو هڅې روانې دي او د هيواد د نږدې تاريخ تر ټولو دورو ښخه زيات په اوسنيو شرايطو کې د دموکراتيکو فعاليتونو او سياسي او ټولنيزو سازمانونو د جوړولو له پاره د اساسي قانون په چوکاټ کې زمينه برابره ده. سره له دې چې جنګونه دوام لري او په دولتي ادارو کې فساد روان دی، خو د دولت له لوري د قلم، ژبې، مطبوعاتو،

سياسی فعالیتونو، مظاهرو او مېټنګونو آزادی شته او د ولسمشرۍ، پارلمان، ولایتی او ولسوالی شوراګانو له پاره په قانون کې انتخابات په نظر کې نیول شوي. اوس د ملی او دموکراتو ځواکونو په استعداد، ځواک، هنر او فعالیت پورې اړه لري چې له دې شرایطو څخه چیرته، څنګه او څومره ګټه پورته کولای اوپه کومه اندازه او چټکتیا د دموکراتیکو بهیرونود کمیت تر څنګ، کیفیت هم لوړولای شي؟

زما په شخصی تجربه د ظاهرشاه د پاچاهۍ په کلونو کې ډیر کسان په سیاسی فعالیتونو، مظاهرو او مېټنګونو کې د ګډونوال اومحرک په نامه ځورول شوی، ټکول شوی، مجازات، بندي او شهیدان شوي دی. نوی ځوانان له ښوونځیو او ځوانان مو له پوهنتونونو ایستل شوی او په سیاسی فعالیتونو کې د ګډون له کبله د تحصیل حق ترې اخیستل شوی دی. سیاسي ګوندونو عملا د برملا فعالیت رسمی اجازه نه لرله. د سردارمحمد داؤد خان د جمهوري نظام په زمانه کې هم وضعیت تر دې ښه نه ؤ. د داؤد خان له خپل دولتی حزب پرته د نورو ګوندونو فعالیتونه منع شوی ؤ. د افغانستان د خلکو دموکراتیک ګوند د حاکمیت په ټولو دورو کې (پر هیواد د شورویانو د نظامي یرغل تر مخ او وروسته) د سیاسی مخالفینو پر فعالیت محدودیتونه وضع شوي وو. ان تر دې چې د ګوند د داخلي فرکسیونی مخالفانو او د بیل نظر څښتنانو له پاره هم دعملی سیاسی فعالیت او د خپل نظر د ښکارولو اجازه نه وه او ډیر یې په بند او مرګ محکومیدل. د مجاهدانو د واکمنۍ په وخت کې خو اصلا د دموکراسۍ موضوع مطرح  نه وه. هغوی نه له فکری لحاظه په دموکراسۍ عقیده مند وو او نه یې د دموکراسۍ دعوا کوله. د طالبانو د حاکمیت په دوران کې له یوې خوا د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو او د شر او فساد ضد شعارونه مطرح او تر خپلې ولکې لاندې ځایو کې یې امن راوستی و، خو له بل لوری یې د اسلامی امارت نوی شکل را منځته کړی وو چې ټولنیزې اوشخصي آزادۍ یې محدودې کړې وې.

د بُن تر لومړي کنفرانس وروسته که د سیاسي ځواک په ګډۍ تر ډیرې اندازې وسله وال زور واکان، جګړه ماران او قومی او مذهبي ټیکه داران کښیناستل، خو دسیاسی نظام دعمومی چوکاټ د جوړښت

له کبله د افرادو د آزادئ او د سياسي آزاد فعاليت له پاره په نسبی توګه ښه شرايط برابر شول. د حامد کرزي د حاکميت په دوران کې که دی پخپله د سياسي ګوندونو د فعاليت پلوی نه وو او له هغو يې ملاتړ ونه کړ، خو بيا هم موجوده نظام د سياسی ګوندونو د فعاليت مخه ټينګه ونه نيوله. اوسنی ولسمشر محمد اشرف غنی بيا د دموکراتيک نظام د بشپړتيا او مدرن دولت د رامنځته کولو له پاره د سياسی ګوندونو د غښتلتيا له پاره د شرايطو د برابرولو په پلوی نظر ورکوي. اوس نو په دموکراتيکو ځواکونو او سياسی فعالينو پورې اړه لری چې څنګه له دې شرايطو د ځان او ولس په ګټه کار اخيستلای شي. دا په دې معنا نه ده چې ټول هغه داخلی او خارجی ځواکونه چې د هيواد په سياست کې مسلط او اغيزمن دی، دموکراتان يا د دموکراتانو پلويان دی او يا د دموکراسئ له پاره د مبارزې ژمنتيا لري. **د هيواد په سياسي ډګر کې دآزادو سياليو له پاره دقانوني چوکاټ او شرايطو برابرول اړين دي** او په دې سياليو کې دموکراتان او غير دموکراتان د قانون په پولو کې د برخې اخيستلو حق لري.

څرګنده خبره ده چې په انسانانو کې د دموکراتيکو افکارو د غښتلتيا له پاره د **افرادو شخصي آزادئ** ته اړتيا ده چې پخپله فکر وکړي، افکار يې سانسور نه شي او د ډيرو موجودو نمونو او امکاناتو ترمنځ پخپله خوښه، ښه موډل او مناسبه نمونه انتخاب کړي . د دموکراسئ پلويانو او په دموکراتيک نظام کې د ژوند کولو مينه والو ته ښايي چې لومړی په فکری لحاظ او پخپل مغز کې آزاد فکر کولو ته چمتو شي، په هيوادنيو او سازمانی چارو کې پخپل آزاد فکر برخه واخلي او د نورو آزاديو ته هم د زړه له کومي احترام وکړي. دا بايد ومنو چې په دموکراسئ کې هغه کسان هم د ژوند او کارکولو حق او امکان لري چې په دموکراسئ عقيده مند نه دي.  ددې له پاره چې په يوه هيواد کې دموکراتيک نظام د دموکراسئ په اصولو ښه وچليږي، بايد په کافی اندازه او د اړتيا سره سم دموکراتان او د دموکراسئ طرفداران ولري چې د سياست په تله کې يې وزن له غير دموکراتانو زيات وي. د دموکراسئ د ودې له پاره پرمختللې زيربنا، د هغې پر اساس را منځته شوې روبنا او لوړ ملی سياسی شعور او ټولنيزې بيدارئ ته اړتيا ده. د عيني شرايطو سربېره، د دموکراتانو روزنه، تنظيم او د

هغوی د ظرفیتونو لوړول او په سیاسی مبارزه کې رهبري کول پخپله د مخکښو دموکراتانو او دموکراتیکو انستیتوتونو او سازمانونو دنده ده. دموکراسي په ټاکلو شرایطو کې د دموکراتانو په لاس او ځواک جوړیدای شی او دا بیا د غیر دموکراتیکو افکارو او اعمالو په وړاندې دوامداره مجادلې او مقابلې ته اړتیا لري .غیر دموکراتان د دموکراتیک فعالیت له پاره شرایط نه جوړوی، بلکې په دموکراتانو د کار او فعالیت ډګر تنګوي. له غیر دموکراتانو څخه د دموکراسۍ د نه عملي کولو ګیله او شکایت سم او پر ځای نه دی او د دموکراسۍ او دموکراتانو درد نه دوا کوي . د دموکراسۍ د عملی کولو له پاره باید پخپله دموکراتان فعال او عملاً لاس په کار شی او د موجودو عینی او ذهنی شرایطو سره سم په سنجول شوی تدبیر ګامونه پورته کړي. یوازې پر نورو انتقاد کول او پخپله د عملي سیاسي ډګره ځان لرې نیول د دموکراتیکو خوځښتونو د لازمي تقویې له پاره کافي نه دي.

نن په هیواد کې د قانونی لحاظه د سوله ایزو آزادو سیاسی فعالیتونو د سرته رسولو امکان شته. ډیرو کسانو د کرزي د حاکمیت په وخت کې په دولتی چارواکو او پخپله کرزی باندې په بر ملا توګه ډیرې نیوکې کړی دی، چې له دولت او امنیتی ارګانونو سره یې سندونه شته.  ځینو کسانو خو مخامخ په مجلسونو کې پخپله کرزي ته تر اندازې هم ډیرې تروې او تروشې خبرې کړې، خو د هیواد ولسمشر هغوی نه دی مجازات کړي.  همدا څه موده مخکې چې د قندُز ښار د طالبانو لاس ته ورغلی ؤ، ان د پارلمان وکیلانو د ولسمشرمحمد اشرف غنی پر ضد هر څه وویل، ځیني د دموکراسی له نورمالو پولو هم واوښتل او ولسمشر یې په ملي خیانت تورن کړ. ولسمشر هرڅه وزغمل او په شخصی عقده یې له کوم چا سره بد وضعیت ونه کړ او جزایی ور نکړه.  اوس نو راځئ چې فکر وکړو او له ځانه وپوښتو چې که داسي چلند له هر پخوانی ولس مشر یا پاچا سره شوی وای، د انتقاد  کوونکي او تهمت ویونکي سره به څه ډول چلند شوی وو؟

ددې پرتلې څخه زما هدف دادی چې د دموکراتیکې سوله ایزې سیاسی او اجتماعي مبارزې مینه والو ته زموږ د ټولنې اوسنی سیاسي نبض پوره څرګند شی او د دموکراسۍ پلویان ددې شرایطو څخه د

ګټي پورته کولو له امله خپل فعالیتونه سریع او منسجم کړی، تر څو چې افغانی ټولنه د دموکراسۍ او هیواد د پرمختګ په لور بوزي.

البته د ترقي او پرشاتګ په مبارزه او د دموکراسۍ او دیکتاتورۍ په جدل کې ټکرونه شته، توطیې جوړیږي او ترور وجود لري، خو اوسنی دولت پخپل لاس او مستقیمه توګه د کوم چا د سیاسی سوله ایز فعالیت مخنیوی نه کوی او نه یې شي کولای. د سوله ایز سیاسی فعالیت په بهانه د مخالفینو د نیولو، بندی کولو او مجازات بېلګې په نشت حساب دي. په پایله کې ویلای شو چې د افغانستان په داخل کې د سیاسی فعالیت او ګوندونو د جوړولو له پاره آزادي ورکړل شوی ده. اوس نو د دموکراتانو او پرمختګ غوښتونکو ځواکونو په قوت او مهارت پورې اړه لري چې له دې شرایطو څرنګه ګټه پورته کولای شی، څنګه ځانونه د سیاست مرکز ته راوستلای، د ملت ترمنځ د مسلط سیاسی بهیر د بدیل په حیث مطرح کولای او په کوم هنر او شېوه له خپلو ملی ګټو په سوله ایزه توګه دفاع کولای او پر دیکتاتورانو ډګر تنګولای شي!

دموکراتان باید پخپله د دموکراسۍ د بنسټیزه کېدو، پراختیا او تکامل له پاره عملا او په جدي توګه لاس په کارشي، نه دا چې له غیر دموکراتو او ارتجاعي جګړه مارو د دموکراسۍ د نه پلی کولو په خاطر خپل وخت په نالښتونو او ګیلو تیر کړي  او یا په انفرادي او شخصی قهرمانیو باندی ویاړ او اکتفأ وکړي. دموکراسي د ګډ کار هنر دی او په دموکراتیکو اصولو سیاسی او ټولنیزه مبارزه د ټاکلو اهدافو د پلویانو کلکتیفی او جمعي کار دی. دموکراسي د هدف په لوري منډه کې د ټولو مینه والو د آزاد او داوطلبانه ګډون او هماهنګۍ فن دی. د نړۍ د هیوادونو تاریخ ثابته کړې ده چې د دموکراتیک نظام جوړول د دیکتاتورۍ هغه نه ډیر ستونزمن کاردی، ځکه چې ددې تعمیر د هرې خښتې په ایښودو کې باید د ټولنې د افرادو اراده او تصمیم نغښتی وي او دا دهیواد د آګاه، بیدارو، روشنفکرو او فداکارو غړو په زیار او زحمت جوړیږی. په افغانستان کې که دموکراتیک ځواکونه په رښتینی دموکراتیک شکل منسجم شی، په قوی ځواک بدلیدای شي. زموږ په هیواد کې دیکتاتوران او په شاتګ غوښتونکي قوی نه دی، بلکې د ترقي غوښتونکو دموکراتانو تشکُل ضعیف دی، بې پلانه دي او ډیر ځلې د حوادثو

په لکۍ پسې روانيږي. دا به تاريخی لويه غلطي وی که د افغانستان خلک او په ځانګړې توګه د هيواد روشنفکران او پرمختګ غوښتونکي ځواکونه له اوسنيو موجودو امکاناتو د هيواد د پرمختګ او د دموکراسۍ د تعميم له پاره لازمه ګټه پورته نکړي.